ASSA ABLOY

# د چلند اصول

## لنډه نسخه

The global leader in
door opening solutions



# د چلند اصول

**د د چلند اصول** دغه نسخه د چلند اصولو بشپړې نسخه خلاصه ده. ټولو کارکوونکو ته توزیع کیږي. د چلند کوم بشپړ اصول نسخه چې ټولو مدیرانو او کارکوونکو ته چې د خرڅلاو، بشري سرچینو، مالي/محاسبوي برخې کې کار کوي، ورکول کیږي. همدارنګه څرنګه چې د مربوطه برخې له اړخه یي پریکړه کیږي، کارکوونکو ته د ستونزو په صورت کې د اتحادیې نمایندګان او نورې برخې هم د دوی د مشورې لپاره شتون لري. دد چلند اصولو دواړه بشپړ او لنډې نسخې په رنګارنګ ژبو کې شتون لري چې په بشري سرچینو کې د آسا ابلوی ASSA ABLOY په انټرانټ پیدا کیږي.

**ASSA ABLOY په مسول** ټولنیزې او اخلاقي رویې او همدارنګه د نړۍ په سطحه چې کوم چې کارکوونکي د کمپنۍ لپاره خدمت کوي د هغوی په مسولیت باور لري. همدارنګه ASSA ABLOY او د هغې کارکوونکي د ښو او سمو معاملاتو لپاره د لوړې سطحې معیارونو مسولیت او دنده لري. دا هغه بنیاد دی چې د کوم لپاره چې ولې او په کوم دلیل ASSA ABLOY د چلند اصول منځ ته راوړي دي. ددې لپاره د ټولو کارکوونکو څخه تمه کیږي ترڅو زمونږ د چلند اصول مراعات کړي.

**د چلند اصول څوک عملي کوي؟**

د چلند اصول زمونږ په ټولو کارکوونکو عملي کیږي. ASSA ABLOY همدارنګه د تجارتي شریکانو چلند اصول لري، کوم چې د تجارت په هغو ټولو شریکانو چې ASSA ABLOY لپاره تولیدات یا خدمتونه وړاندې کوي، په هغو ټولو باندې عملي کیږي، او هغوی د ASSA ABLOY لپاره او د هغې پرځای عمل کولو لپاره لاربود شوي دي لکه تهیه کوونکي (او فرعي قراردادیان که چیري د ASSA ABLOY سره د کارکولو په صورت کې کارول شوي وي)، مشاورین، توزیع کوونکي، نماینده ګان او نور. د تجارت شریکان همدارنګه باید د قرارداد مقرراتو په واسطه هم شامل شوي.

**قانوني حیثیت**

په کومو هیوادونو کې چې دا عملي کیږي ASSA ABLOY د هغو هیوادونو قوانینو او قواعدو ته احترام لري. د چلند اصول قوانین نه بدلوي او که چیري دواړه سره په اختلاف کې شي نو قوانینو ته لومړیتوب ورکول کیږي. که چیري د چلند اصول د موجوده قوانینو څخه د لوړو معیارونو ځای نیسي نو په برعکس بڼه عملي کیږي. د چلند اصول په انګریزي ژبه کې د اعتبار وړ دي. چیري چې ددې سند د ډول ډول ژبو نسخې شتون ولري نو دا ټول به د ژباړې په توګه وګڼل شي.

## د ستونزو منځ ته راتلل

که چیري کوم کارکوونکي کومه ستونزه ولري او یا کومه هیله ولري ترڅو شکایت وکړي اود تخلف راپور ورکړي نو پدې صورت کې باید اړوند مدیر، د سیمه ییزې ادارې استازي او یا هم د چلند اصولو موضوعاتو سیمه ییز مسول کس ته خبر ورکړي. که چیري کارکوونکې ته ستونزمنه وي ترڅو په سیمه کې دغه موضوع مطرح کړي، نو په هغه صورت کې د ASSA ABLOY مرکزي دفتر سره باید د برښنایي فورم په بڼه اړیکه ونیسي *www.assaabloy.com*. په لومړي آپنډکس یا ضمیمې کې وړاندې شوی فورم هم کیدلای شي چې وکارول شي. د کارکوونکو معلومات به پټ ساتل کیږي او د راپور ورکولو پر سر به له کوم کارکوونکې سره د چلند اصولو سره په ټکر کې تبعیض نه کیږي.

## تطبیق او نظارت

ASSA ABLOY د چلند اصولو عملي کولو نظارت ترسره کوي. تخلف او پیمان ماتولو په صورت کې به فوري اقدامات ترسره کیږي.

سټوکلوم، فبروري 5، 2016
جوهان مولین، رییس او اجراییه رییس

**د ASSA ABLOY مرکزي دفتر**
**سره اړیکه ونیسئ**
code@assaabloy.com

**یا**
Code of Conduct function
ASSA ABLOY AB
Box 70340
SE-107 23 Stockholm
Sweden

# 1. عمومي

## 1.1 عمومي

ASSA ABLOY چې په کومو هیوادونو کې فعالیت کوي د هغوی قوانینو او اصولو ته درناوی لري او له خپلو کارکوونکو غواړي دا هر څه په همدغه ډول په پام کې ونیسي. ASSA ABLOY هیڅ ډول فساد، او همدارنګه رشوت، د ګټو ټکر، فریبکاري، اجحاف، اختلاص او غیر قانوني نور محدود شوي فعالیتونه نه مني.

## 1.2 سیالي او د ګټو ضد قونین

ASSA ABLOY د رقابت خلاف توافقات نه ترسره کوي. د ګټو ضد او رقابت مخالف قوانین په هر هیواد کې توپیر لري خو اصلي اصول یو ډول دي. د چلند اصول دا تشخیصوي او د ASSA ABLOY په انټرانټ باندې د ASSA ABLOY رقابت او د ګټو ضد شکایت پروګرام لا اضافي لارښود او جزیات وړاندې کوي.

د ASSA ABLOY کارکوونکي باید د رقابت خلاف توافق او هماهنګي کار څخه مخنیوی وکړي. او همدارنګه باید د عامو پوهیدو شیانو څخه د اصلی او پوتانشیل رقابت کوونکي څخه ډډه وکړي. همدرانګه د رقابت کوونکو ترمنځ د معلوماتو تبادله د رقابت کوونکو او پوتانشیل رقابت کوونکو سره په قضایې برخو کې غیر قانوني دي. کله چې د تجارت اتحادیې په لیدنو کې ګډون کوی نو خاصه پاملرنه باید وکړای شي.

کارکوونکي باید د خرڅلاو استازو سره د خرڅلاو استازو په قیمتونو او یا هم په حداقل قیمتونو چې د خرڅلاو استازو له اړخه د ASSA ABLOY په تولیداتو باندې راځیتوافق ونکړي . حد

اکثر او سپارښت شوي د خرڅلاو استازو قیمتونه د منلو وړ دي (چې د سپارښتنو د تعقیبولو لپاره کوم فشار نه وي). د ASSA ABLOY رقابت او د ګټو ضد شکایت پروګرام د مشتریانو او تجارت شریکانو سره د نورو ډولونو رویو په اړه چې کیدلای شي غیر قانوني وبلل شي معلومات وړاندې کوي.

رقابت چارواکې له طرفه د تحقیقاتو په صورت (ډان رید) کې کارکوونکې باید په بشپړه توګه همکاري وکړي او د ASSA ABLOY د ډاون ریډ لارښوونې تعقیب کړي.

## 1.3 د رشوت خلاف

ASSA ABLOY رشوت نه مني. دا داسي معنا لري چې ASSA ABLOY ددې مخنیوی کوي ترڅو کارکوونکې باید کوم پشنهاد، وعده، پیسو ورکول، د هر قیمت ډالۍ باید قبوله نه کړي ددې لپاره ترڅو د کارکوونکې پر اصلي پریکړې تاثیر ولري. په پوشانې توګه دا معنا هم لري او یا داهم ویلای شو چې د ASSA ABLOY کارکوونکې منع شوي دي ترڅو کوم شی د چا څخه لاسته راوړې او هغه د کارکوونکې په پریکړې ځانګړی تاثیر ولري.

د ASSA ABLOY د رشوت خلاف پالیسي اصلي او مهم پیغامونه په لاندني ډول دي:

**سرګرمي او ډالۍ**

سرګرمي وي او یا که ډالۍ یا که واخیستل شي او یا ورکړل شي په هر صورت کې باید قیمت ته د تجارتي هدف لپاره محدود، ښه

سند لرونکې او معقول وي. د خرڅلاو فعالیتونه او کړنې باید حد اکثر سموالي سره ترسره شي. د پاملرنې سره سرګرمې، ډالۍ او مصارف د منځنې سطحې په درلودو سره د قبول وړ دي. خو دا کارونه باید په تجارتي عوایدو باندې ځانګړی تاثیر ونلري. له هغو کړنو او فعالیتونو څخه ډډه وکړئ چې بې عدالتي منځ ته راوړې. د دولت او عامه کارکوونکو، سیاست مدارانو او نورو عامه خلکو مصارف باید د نیږدې څخه نظارت ترسره شي. په ډیری هیوادونو کې دولتي او یا عامه خلکو ته د داسو ډالیو او مصارفو ورکول غیر قانوني ده.

## تجارتي نماینده ګان

ASSA ABLOY لپاره چې کوم د تجارت شریکان کار کوي او یا د هغې پرځای کار کوي د هغو خلکو د غلطو کړنو لپاره ASSA ABLOY وفاداره ده. ددې لپاره باید یواځې د قانوني تجارتي موخو او اهدافو او معقولو شرایطو لپاره وکارول شي. کوم چې د ASSA ABLOY لپاره او یا د هغې پرځای کار کوي د هغوی څخه توقع کیږي ترڅو د ASSA ABLOY د تجارت شراکت چلند اصول سره توافق وکړي.

## تخفیف، کمونه، کمیشن او انعام

د انحصاری امتیاز قیمت او جبران کول کولای شي د رشوت آسانه کولو لپاره وکارول شي. ددې برخو شرایط باید د لیکنې په ډول وي او باید په تجارتي بڼه معقول ووسي.

**د آسانتیا تادیه**

ASSA ABLOY د آسانتیا او رشوتې اخیستلو نه ځان وساتی.

**سیاسی کمک او همکاری**

ASSA ABLOY کوم سیاسي کمک او همکاری نه ترسره کوي. په سیاست کې فردي ګډون په شمول د ډونیشن یا مرستې نباید د ASSA ABLOY بودیجه، وخت، تجهیزات، ذخیرات، آسانتیاوي، تجارتې مارک یا نوم کارول شامل وي.

**خیریه مرستې او تمویل**

ASSA ABLOY خیریه ګروپونو د قانونې موخو لپاره ملاتړ کوي. مرستې باید د ټولنې د ګټې په موخه وي او باید په داسي یو ډول وي چې د ټولنیز مسولیت په ادا کولو کې هماهنګې وکړي. د ASSA ABLOY تولید د کارولو یا خرڅلاو کوم مشکوکې اړتیا سره به مرسته نه ترسره کیږي. همدارنګه ASSA ABLOY د رشوت نه د تښتې لپاره په کوم ډول تمویل نه کاروي. د ASSA ABLOY رشوت خلاف پالیسی او نورو مربوطه پروسیجرونو په اړه د اضافي لاربنود لپاره د ASSA ABLOY انټرانټ ته ولاړ شی.

## 1.4 فریبکاري

ASSA ABLOY هیڅ ډول فریبکاري نه مني.

### 1.5 ریکارډ او راپوروونه

د ASSA ABLOY ریکارډ ساتلو او راپور سیستم سموالی په حد اکثر اهمیت کې دی. کارکوونکې باید ځانګړې پاملرنه وکړي ترڅو ډاډمن شي چې ریکارډونه سم دي او په بشپړه توګه چمتو او کتل شوي دي که څه هم هغه د داخلي او بهرنی ګټې لپاره وي.

### 1.6 دولتې تحقیقات

ASSA ABLOY په سمه توګه د هر دولتې تحقیقاتو سره همکاري کوي.

### 1.7 د ګټو ټکر

د کمپنۍ او کارکوونکو ترمنځ د ګټو ټکر څخه باید ډډه وکړای شي. که چیري داسې کومه ستونزه وي او د ډیریدو امکانات وي نو داسې اختلاف باید رامنځ ته شي او د کارکوونکې ته اړتیا ده ترڅو کمپنۍ په لیکنې بڼې خبره کړي او د فوري مدیر سره ورباندې بحث وکړي. د ګټو ټکر لاندنۍ ستونزې راپورته کوي:

- بهرنې تجارتي فعالیتونه
- شخصي مالي ګټې
- داخلي معلومات
- اخیستنه او د کورنۍ په غړو او یا شخصي نیږدې ملګرو باندی یې خرڅونې کاراخیستنه
- پټ معلومات
- د حق امتیاز، تجارتي مارک او د محفوظیت امتیاز
- کمپیوټر سافټویر

# 2. ارتباطات

## 2.1 عمومي

د ASSA ABLOY په ارتباط ټول ارتباطات پرته ددې چې وکتل شي کوم ارتباطي چینل کارول کیږي دې ته اړتیا لري ترڅو د ASSA ABLOY تجارتي ارزښتونو او پالیسیو سره په یو مسیر او خط کې واوسي. د ASSA ABLOY کارکوونکي باید تل مسلکي، صادق او سم واوسي او تل باید هڅه وکړي ترڅو ارتباط خونديې وساتي. مهم او حساس معلومات نباید د چا سره ورباندې بحث وشي او یا نشر کړای شي. د اضافي لارښوونو لپاره د ASSA ABLOY په انټرانټ باندې د ASSA ABLOY بهرنی نشر پالیسي، د داخلي ارتباط پالیسي او د نړیوالې ټولنیزې رسنی پالیسي ته مراجعه وکړی.

## 2.2 برښنالیک ته ځواب ورکول او د انټرنټ کارول

د برښنالیک ارتباطات باید د نورو تجارتي ارتباط لیکنې محتویات، رسمي ژبې او اسنادو په اساس باید ترسره شي. د کمپنۍ برښنالیک او انټرنټي عملکرد یواځې باید د کمپنۍ موخو د ترسره کولو لپاره باید ترسره شي وددې لپاره د ټول د کمپنۍ ملکیت بلل کیږي. په ډیرۍ هیوداونو کې ASSA ABLOY په قانوني ډول د هغو موادو د کارولو لپاره ځان او کارکوونکو ساتلو ته مسوله ده. ددې لپاره ASSA ABLOY د برښنالیک او انټرنټ د کارولو نظارت حق درلودونکې ده.

## 2.3 تلیفوني خبرې

ASSA ABLOY تیلیفوني خبرو نظارت نه کوي خو تر هغه وخته پورې کوم مشخصه دلیل لکه ازموینه اخیستل لپاره ترسره نشي. په هر صورت کې به نظارت په اړه د کارکوونکو او کمپنۍ سره په ځانګړې توګه موافقه ترسره کیږي. د ځانګړې توګه به کوم دریم لوري ته د نظارت په اړه خبرتیا ورکول کیږي.

## 2.4 ټولنیزه رسنۍ

د ASSA ABLOY په اړه په ټولنیزې شبکې کې په شمول د بلاګونو، ټولنو، انترنت فوروم او ټولنیزې رسنۍ کې د ټولو پوسټونو د کاپی حق قوانینو ته باید احترام وکړای شي. کله چې د ASSA ABLOY په اړه ارتباط نیول کیږي او د ASSA ABLOY لوګو ډول کارولو په وخت کې باید ډیره توجه او پاملرنه ترسره شي. د ټولنیزې رسنۍ په چینلونو کې د ASSA ABLOY پر ځای د عمل کول یواځې مشخصو افرادو سره موافق ترسره کیږي.

ټولنیزه رسنې باید په داسې ډول چې د ASSA ABLOY مشهورتیا ته کوم ضرر ورسیږي باید و نه کارول شي. د ASSA ABLOY په اړه د هغې همکارانو، رقیبانو او نورو موضوعاتو په اړه باید ناسم پوسټونه ترسره نشي.

# 3. د بشر حقوق او د کار معیارونه

## 3.1 د ماشوم کار

ASSA ABLOY د ماشوم کارکول نه مني. ASSA د هر ماشوم حق پېژني ترڅو وساتل شي او هغوی باید کوم کار ترسره نکړي ترڅو د هغوی فزیکي او ذهني روغتیا ته ضرر ولري او همدارنګه د هغوی ټولنیز پرمختګ ته مضر تمام شي او همدارنګه ددوی په تعلیم کې نباید کومه مداخله ترسره شي.

په دې برخه کې ماشوم هغه شخص دی د کوم چې عمر د 15 کلنو څخه ښکته وي، او یا د پرمختګ کوونکو هیوداونو د ILO 138 قانون او 2.4 مادې په اساس د کم عمر په حساب په دې برخه کې د ماشوم هغه شخص دی د چا چې عمر د 14 څخه ښکته وي. که چیري مربوطه ملی قانون لوړ عمر وکاروي نو همدا عمر به وکارول شي.

په ځینو هیوادونو کې کم عمر لرونکو کسانو ته "د ځوانو کارکوونکو" تعریف کارول کیږي، پدې معنا چې د کار کولو په وخت کې د کار ترسره کولو ډول سره به قانوني حدود ټاکل کیږي ترڅو د کار کولو اجازه ورکړل شي.

## 3.2 د فشار لاندې کار

ASSA ABLOY هیڅ ډول تر فشار لاندې کار یا زندانیان او یا غیر قانوني کارکوونکې نه مني. ټول کارکوونکې باید ددې حق ولري ترڅو د هغو ساعتونو پر مهال کله چې دوی کار نه کوي په آزادنه ډول خپل د کارځای او د اوسیدنې ځای (که ورکړل شوی وي) پرېږدي.

### 3.3 د اتحاديې او کلي چنه وهنې آزادي

د ASSA ABLOY کارکوونکې ددې آزادې لري ترڅو يوځای کيږي او يا هم نه يوځای کيږي. د خپلې خوښې اتحاديه او همدارنګه د خپلې خوښې اتحاديه د محلی قوانينو او قواعدو په ارتباط کې د يوځاي چنې وهنې لپاره جوړه کړي. ددې حقونو د عملي کولو لپاره هيڅ کوم کارکوونکی نبايد خطر پر ځان ومنې.

### 3.4 د کارکوونکو قراردادونه، کاري ساعتونه اضافه کاري پيسې

ASSA ABLOY د کاري ساعتونو او قراردادونو په اړه او همدارنګه د اضافه کاري او د اضافه کاري پيسو ورکولو په اړه محلي قوانين او قواعد عملي کوي. د محلي قوانينو او محلي مارکيټ حالت په اساس معاشونه په قانوني بڼه بايد ورکړل شي. کارکوونکو ته د 7 ورځو کې حداقل يوې ورځې رخصت دی او همدارنګه د محلی او ملي رخصتيو کې هغوی ته رخصت دی. کارکوونکو ته بايد کلنۍ رخصتي، د ناروغی او همدارنګه د ضروري او مهم کار رخصتي پرته د کوم منفي اثر څخه ورکړل شي.

### 3.5 تبعيض، اذيت او تنوع

ASSA ABLOY د جنسيت تنوع او بيلانس ته ارزښت ورکوي.
ASSA ABLOY داسې يو کاري چاپيريال منځ ته راوړي په کوم کې چې ټول افراد يو بل ته د احترام په سترګه ګوري او هر کس ته يکې يو شان او معادل چانسونه د پرمختګ لپاره ورکول کيږي.
ددې لپاره ASSA ABLOY به هيڅکله په کاري چاپيريال کې د تبعيض او آذيت، نژاد، اخلاقي، جنسي بڼې او جنسيت، دين، عمر، معلوماليت، سياسي مفکورې، مليت او نورو تبعيضي فکتورونه به هيڅکله هم ونه زغمي.

### 3.6 د کار او طبي ریکارډونه

د کار او طبي ریکارډونه به پټ وساتل شي او تر هغه وخت پورې به ښکاره نشي ترڅو د شخص قانون او اړین لیکنیز رضایت لیک وانه خیستل شي. د کارکوونکو طبي ریکارډونه د نورو څخه په جلا توګه به په بسته او تړل شوي آلماریو کې وساتل شي.

### 3.7 له الکولو او/یا نشه یي توکو څخه ناوړه ګټه اخیستنه

ASSA ABLOY مخکې له مخکې دا هڅه کوي ترڅو د کاري چاپیریال څخه ضرر رسونکې شیان له منځه یوسي. کارکوونکي که چیري د الکول تاثیر لاندې او په کاري چاپیریال کې باید ونه وسي. کارکوونکي باید د خپلو دندو توانایي او کړنې ته ژمن ووسي.

ASSA ABLOY د هغو کارکوونکو لپاره چې د نشه یي توکو تر تاثیر لاندې وي او په کاري چاپیریال کې وي د هغوی پر وړاندې هیڅ حوصله نه لري.

### 3.8 د مصرف کوونکې علاقه

ASSA ABLOY ددې ډاډمنتیا ورکوي چې د روغتیا اړین محفوظیت د تولیداتو او خدمات ساتل شوي او دا اړینه ده ترڅو د خدماتو او تولیداتو سم معلومات د سمو چینلونو له اړخه نشر کړای شي.

### 3.9 د ټولنې لاسرسی

ASSA ABLOY ددې موخه لري ترڅو د شهروند سره چې محلی او ساحوی او نړیوالو ټولنو په سمه توګه ملاتړ او عمل ترسره کوي د هغوی سره په ښه توګه همکاري ترسره کړي.

# 4. چاپیریال

## 4.1 چاپیریال او پایښت

د ASSA ABLOY باید د محلي قانوني اړتیاوو او توقعاتو اجازې سره سم د کارکولو اجازت نامه لرونکې ووسي. د ASSA ABLOY چاپیریالي کارونو ترسره کولو لپاره ټول کارکونکې د ملاتړ توقع کوي. ASSA ABLOY د محل دوستانه تکنالوجي پرمختګونه تشویق کوي. ASSA ABLOY د ښه تاثیر سره او د محیطی قوي اداري سیستم ته اړتیا لري.

ASSA ABLOY په دوامداره توګه دا هڅه کوي ترڅو د سرچینو مصرف را ښکته کړي لکه د انرژۍ، ضایعاتو او اوبو، همدارنګه د هوا ککړتیا څخه مخنیوی وکړي. او همدارنګه د آواز سطحه مراعت کړي او همدارنګه نور کارونه د خپل کړونو او تولیداتو د ارزښت لپاره ترسره کړي. ټول کیمیاوی مضره مواد باید سمه نښان کړای شي او ښه محفوظ وساتل شي او همدارنګه بیا تري ګټه واخیستلای شي. د مضره موادو په اړه د اضافې لارښود لپاره د ASSA ABLOY انټرانټ ته مراجعه وکړی.

# 5. روغتیا او خوندیتوب

## 5.1 کاري چاپیریال

ASSA ABLOY په سیستماتیکه توګه د روغتیا او خوندیتوب سره کار کوي او هڅه کوي ترڅو خوندي کاري چاپیریال منځ ته راوړي. هغه خطرونه چې کولای شي زمونږ د کارکوونکو خوندیتوب ته مضر ووسي او د حادثې را پیښیدو سبب وګرځي د هغې سطحه به را ښکته شي. لدې کبله، د دندې پر مهال د روغتیا او خوندیتوب خطرونه باید د خطرونو د له منځه وړلو، د انجینري کنټرول او/یا اداري کنټرول لومړیتوب لرونکې پروسې له لارې مشخص، کنټرول او اداره شي.

خوندي کاري چاپیریال دا معنا لري چې د مثال په توګه ساحه پاکه ساتل شوي ده او ککړتیا نلري، د تولیداتو ماشینونه خوندي دي او دکارکوونکو لپاره کوم خطر نه را پیښوي. همدرانګه دکار چاپیریال باید ښه وي او همدارنګه د آواز او تودخې د درجې له پلوه د منلو وړ وي. که چیري د آواز سطحه د قبول وړ نه وي نو په هغه صورت کې د غوږونو ساتلو شخصي تجهیزات باید وکارول شي. ټولې برخې باید په د نرانو او ښځو لپاره په جلا جلا توګه د پاکو تشنابونه او خوني وړاندي کړي. ASSA ABLOY لیدونکي باید زمونږ د خوندیتوب او روغتیا اصولو په اړه معلومات لاسته راوړي.

د ASSA ABLOY قرارداد کوونکي د خپل امنیت پخپله مسولین دي. که څه هم د ASSA ABLOY قرارداد کوونکې دي ته اړتیا لري تر څو د ASSA ABLOY خوندیتوب پروسي یوه برخه ووسي. هغه

قراردادیان چې د ASSA ABLOY اصولو سره په اړیکه کې نه دي او همدارنګه د چاپیریالي خوندیتوب لپاره په اړیکه کې نه دي هغوی هم باید خپلې ستونزې ووایي.

ASSA ABLOY باید د ښو شرایطو سره کار وکړي ترڅو د کړنو لپاره خپل کارکوونکې هم وهڅوي.

## 5.2 تعمیر او د اور خوندیتوب

ټول مضره مواد او تجهیزات باید د مربوطه قوانینو او پالیسو په اساس وساتل شي. د عاجلي خارج کیدني ځایونه باید په ښه ډول نښاني کړای شي. خارج کیدني ځایونه باید په سم ډول بسته وي. ټولو کارکوونکو ته باید د خوندیتوب، د خارج کیدني دروازو او نورو تجهیزات په اړه معلومات ورکړل شي او د تعمیر په هر پوړ کې باید تجهیزاتو باندې تجیهز کړای شي. د قاعدوي بڼه باید د خطر آوازونو سیستم وآزمویل شي.

## 5.3 لومړی مرسته او طبي پاملرنه

د لومړنۍ مرستې تجهیزات باید په ټاکلو ځایونو کې شتون ولري او همدارنګه په هر ځای کې باید حد اقل یو کس د لومړنیو مرستو لپاره تمرین کړای شي. د حادثې په صورت کې باید یو ډاکټر او یا نرس سره اړیکه ونیول شي. کمپنۍ باید طبي پاملرنې مصارف تر پوښښ لاندې ونیسي که چیري هغه د امنیتې او بیمه له اړخه تر پوښښ لاندې رانشي.

# لومړی ضمیمه: د هیڅ کوم شکایت نه درلودلو راپور

زه د حالتو څخه اګاه يم او د ASSA ABLOY د چلند اصولو څخه باید شکایت ونه کړای شي.

**د چلند اصولو لاندې د پوتانشیل او حقیقي اختلاف توضیحات:**

**نوم او د اړیکي معلومات (اختیاري):**

مهرباني وکړئ دا راپور ورکړل شوي
پتې ته ولیږئ:

code@assaabloy.com

او یا که چیرې دا د امکان وړ نه وو:

Code of Conduct function
ASSA ABLOY AB
Box 70340
SE-107 23 Stockholm, Sweden

ASSA ABLOY د داخلي حل
لارو لپاره نړیوال رهبر دی
تر څو د استفاده کوونکو
امنیتي، خوندیتوب او
سهولت اړتیا پوره کړي.

www.assaabloy.com

**ASSA ABLOY**


**ASSA ABLOY AB (چاپ)**
**پوستي پته:**
P.O. Box 70340
SE-107 23 Stockholm
**فزیکي پته:** Klarabergsviadukten 90
**ټیلیفون:** 46+(0)8 506 485 00
**فکس:** 46+(0)8 506 485 85
**د راجستر کولو شمیره:**
SE.556059-3575
**د راجستر کولو دفتر: سټوکلوم، سویډن**
Stockholm, Sweden
www.assaabloy.com




PASHTO/پښتو